

طلوع افغان



نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمایلي دي:

ژباړه: هغه څوک به تاوان و نه کړي، چي استخاره کوي. هغه به څوک به پښېمان نه سي، چي مشوره کوي. هغه څوک به محتاج نه سي چي په مصرف کي میانه روي کوي.

﴿رواه المسلم﴾

پخې خبري

حضرت علي (رض):

"خوشبخته به د آخرت غم خور وي او بدبخته به د دنیا غم خور وي".

د امتیاز څښتن:

د کندهار اطلاعات او فرهنګ ریاست

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

په اوونۍ کي دوه واره چاپېږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، یک شنبه ۲۲/محرم الحرام/ ۱۴۴۶ هـ ق، ۷/زمری/ ۱۴۰۳ ل کال – ګڼه (۲۲)

Sunday 28-July-2024 Issue: 22

د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال د مس عینک پروژه د هیواد له مهمو او حیاتي پروژو وبلله



د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخند، د چهارشنبې په ورځ د لوګر ولایت په محمدآغې ولسوالۍ کي د مس عینک پروژې د غځېدلي سړک، د جوړولو چارو پرانیستنه وکړه.

د ریاست‌الوزرا اقتصادي معاونیت په خپره سوې خبرپاڼه کي ویل سوي چي په همدې مناسبت جوړو سوو مراسمو کي د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست ملا هدایت الله بدري، د اطلاعات او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیرالله خواه، د چین د اطلاعات او فرهنګ وزارت معین، په کابل کي د چین سفیر، د مس عینک قراردادي «ام.سي.سي» شرکت رئیس او تخنیکي ټیم، د خصوصي سکټور استازو، د سیمي اوسېدونکو او یو شمېر امارتي مسئولینو هم ګډون کړی وو.

د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال د مس عینک پروژه د هیواد له مهمو او حیاتي پروژو څخه بللې او ویلي یې دي چې د دې پروژې ډېر وخت ضایع سوی او اوسمهال په کار ده چې عملي کارونه یې ژر پیل سي.

ملا عبدالغني برادر اخند دغه راز د مس عینک پروژې د قراردادي شرکت مسئولینو ته ډاډ ورکړی چې د ۴مخ

د ماديت خوښوني فکر د توسعې مخنیوی په کار دئ

بریالی "فیضي"

زیات کلونه پخوا زموږ په ټولنه کي ډېر برجسته او خورا وتلي اشخاص اوسېدل، هغوی په څېره ډېر ساده او خاکسار معلومېدل، اما عقل یې فیل نه سوای وړلای.

زموږ د کندهار په کوڅو کي یو وخت داسي عظیم شخصیتونه ګرځېدل، چي هیڅ شو – شامپو یې نه وه برابره، اما د علم له لحاظه غرونه وو، په ټوله سیمه او نړۍ کي یې نوم درلودی.

د سیاست له اړخه موږ داسي یو محبوب مشر درلودی، چي اول خو یې افغانان د صفویانو له اشغال څخه خلاص کړل، بیا یې ټول افغانان پر یوه ټغر سره راټول کړل، قوي او منسجم یې کړل، ډېره سیمه یې په خپل کنټرول کي راوستله، اما دا محبوب مشر دومره عاجزو، چي آن تاج یې هم نه پر سر کاوه، هغه خلک خپل لاس لاندي نه، بلکي خپل ورونه او ملګري بلل، هغه پر خلکو دومره ګران سو، چي څلور پېړۍ ووتلې، لا تر اوسه یې خلک «نیکه» بولي.

دلته یو وخت داسي شخصیت اوسېدی، چي خپل تر قد یې لا ډېر کتابونه لیکلي وو، هغه هیڅ مادي معیارونه نه لرل، په همدې خړو کوڅو کي به خړ پړ ګرځېدی، اما داسي نوم یې پرېښاوه، چي ترڅو دا دنیا وي، د دوی نومونه به ژوندي او د خلکو پر خولو وي.

هو! لوړوالی په مادي اسبابو نه رامنځته کېږي، دا مهمه نه ده، چي یو ځوان دي ښه لوکسل موټر ولري، ښه ایفون څلور سترګي ټیلیفون دي ولري، ښه نامیان عطر دي یې وهلي وي، اصل کاټن کالي دي یې اغوستي وي، بیا نو دا ځوان راپورته ځوان دئ.


زموږ له پاره په کار دا ده، چي اسباب معیار و نه ګڼو، بلکي معنویات معیار وګڼو، موږ ته په کار ده چي په اسبابو سیالۍ سره و نه کړو، بلکي په تقوی، علم، اخلاص، غیرت او محنت سیالۍ سره وکړو.

موږ ولي د یو داسي موټر یا موبایل په درلودلو چي بې دینه او د وخت غلامانو چینایانو یا جاپانیانو جوړ کړي وي، باټ وکړو او د دا شیانو درلودل، د ځان له پاره معیار وبولو؟

معیار دا دی چي موږ دومره ظرفیت پیدا کړو، چي له موټر او موبایل په جوړولو کي د چین او جاپان سره سیالي وکړو او د هغو څخه د خپل فرهنګ، ژبې او فکري ودې له پاره استفاده وکړو.

راسئ ځوانانو! خپل اسلاف مطالعه کړو، په دې پوه سو چي هغوی څومره د ژوند اساسي معیارونو ته متوجه وو او موږ له بده مرغه څومره اساسي معیارونه له پامه غورځولي دي او په مادیاتو پسي مو لستوڼي راپورته کړي دي.

چینایي پلاوی: د تاریخي آبدو او لرغونو سیمو ساتني په برخه کي همکاري کوو



د اطلاعات او فرهنګ وزارت د چارواکو او د چین د اطلاعاتو او ګرځندوی وزارت د پلاوي ترمنځ ناسته، د سه شنبې په ورځ په کابل کي تر سره سوه.

د باختر آژانس خبریال د خبر له مخي، دغه ناسته چې د افغانستان په ملي موزیم کي تر سره سوه، د اطلاعات او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر معین ۴مخ

د لوی احمدشاه بابا د کور ترمیماتي چاري ۷۰ سلنه بشپړي سوي



د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رئیس مولوي انعام الله سمنګاني د هنر او فرهنګ د آمر عبدالشکور څپاند په ملتیا د چهارشنبې په ورځ د لوی احمد شاه بابا د کور د بیارغوني له چارو لیدنه وکړه او هلته یې اړوندو مسئولینو ته د چارو په ښه توګه تر سره کولو او د دغه تاریخي کور د ساتني اړوند لازمي سپارښتني وکړې.

د یادولو وړ ده، چي د لوی احمدشاه بابا د کور د بیارغوني چاري د اطلاعات او فرهنګ وزارت له لوري پیل سوي، چي اوس مهال یې ۷۰ سلنه چاري بشپړي سوي او پاته چاري به یې په راتلونکو شاوخوا درو میاشتو کي بشپړي سي.

د کندهار په ارغسان ولسوالۍ کي د لوړې بند جوړېږي



د کندهار ولایت مقام په یوه خپاره سوي خبر کي ویلي، په همدې هدف د افغان – جرمن باختر شرکت او د روسیې د اوبو او انرژي انستیتوت مسئولینو کندهار ته د خپل سفر په ترڅ کي د کندهار والي مرستیال حاجي ملا محمد صادق انقلابي ۴مخ

د کتابونو پر بازار موندنه او کتاب لوستني ته پر هڅوني بحث وسو



د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رئیس د کتاب پلورونکو او کتاب پلورنځیو له مسئولینو سره وکتل.

د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رئیس مولوي انعام الله سمنګاني د باختر خبري آژانس سره په خبرو کي ویلي، د سه شنبې په ورځ د هنر او فرهنګ د آمر او د یاد ریاست د کتابتون د مدیر په ملتیا، له کتاب پلورنکو سره لیدنه تر سره سوه.

مولوي انعام الله سمنګاني وویل، په لیدنه کي د کتاب پلورونکو پر منسجم کېدو، د هغوی د ستونزو پر ۴مخ

مالدارانو ته د مالدارۍ اړوند لازم سامان آلات ورکول کېږي



د کندهار ولایت په پنځو ولسوالیو کي له مالدارانو سره د مالدارۍ اړوندو توکو مرسته کېږي.

د کندهار د کرهني ریاست مطبوعاتي مسئول مطیع الله سعیدي ویلي، د کرهني ریاست تر رهبرۍ لاندي د خوړو او کرهني نړیوال سازمان، د کندهار ولایت په ۴مخ

یوه عراده غلا سوی تراکتور خپل مالک ته وسپارل سو



امنیتي ځواکونو یو عراده غلا سوی تراکتور په کندهار کي پیدا او خپل مالک ته سپارلی دئ.

د کندهار ولایت د امنیې قوماندانۍ ویاند مولوي اسدالله جمشید ویلي، د کندهار ښار پنځمي امنیتي حوزې امنیتي ځواکونو تر یو لړ کشفي عملیاتو وروسته هغه تراکتور پیدا کړ ۴مخ

د لوحو او تابلوګانو د اصلاح کمېټې فعالیت پیل کړ



د کندهار د اطلاعات او فرهنګ ریاست اړوند، د اطلاعاتو آمر حمدالله آغا هاشمي باختر خبري آژانس ته ویلي، په کندهار کي د لوحو او تابلوګانو د اصلاح کمېټې فعالیت پیل کړی، ترڅو په ۴مخ



د طلوع افغان خبري

افغانان باید د تېرو ۴۵ کلونو شاتګ جبران کړي

افغانستان ډېر کلونه کېږي چې سترې ورځې تېروي، څلور لسیزې تر مخه یعني ۱۳۵۷ لمریز کال کې چې کله د سردار محمد داؤد خان حکومت نسکور سو، پر ځای یې کمونیستي رژیم واک ته ورسېدی، له هماغه ورځې د افغانستان سترې ورځې را شروع سوې، مملکت مو اشغال سو، جنګونه پیل سول، د اشغال په وړاندې د مجاهدینو مقاومت شروع سو، اقتصادي وده په ټپه ودرېده، تعلیم، زراعت، فرهنګ او په عموم کې له هره اړخه مو ډېر زیانونه وګالل.

دا چې سلامت او ملامت څوک وو، په هغه ټول سره خبر یو، صرف هدف دادی، موږ باید په دې پوه سو، چې موږ په تېرو ۴۵ کلونو کې ډېره زیاته خساره لیدلې ده، ډېر څه مو له لاسه ورکړي دي، د نړۍ د پرمختګ څخه وروسته پاته سوي یو، موږ په لسونو کلونو د پرمختللې نړۍ څخه وروسته پاته سوو.

جنګونو موږ ډېر وځپلو، دوو سترو نړۍوالو قدرتونو زموږ سره زور معلوم کړ، موږ وتوانېدلو چې دواړو (شوروي اتحاد او ناټو) ته ماتي ورکړو، خو خپله مو هم بې انتها ډېر تاوانونه ولیدل.

د افغانستان اوسنی نسل ډېر دروند بار پر خپلو اوږو لري، افغانان اوس باید ډېر زیات کار وکړي، چې د نړۍ له نورو هیوادونو سره سیالان سي، افغانان ډېره سخته او سترې کوونکې کورنۍ دنده لري، چې باید ترسره یې کړي.

زموږ په هیواد کې په تېرو کلونو کې خصوصًا د اشغال په کلونو کې د ولسونو پر ذهنونو ډېر کار وسو، مختلف افکار، نظریې او ایزمونه دلته وازمایل سول، چا غوښتل چې موږ کمونیستان کړي، چا ډیموکراټان راڅخه جوړول، چا سیکولران کولو، خو لله الحمد تر دې سختو ورځو را تېر سوو، اوس مو په ملک کې د امن فضا خپره ده، اشغال ختم سوی دئ او پر خپله خاوره مو خپل واک دئ.

اوس د اوسني واکدارانو له پاره دا په کار ده، چې د افغانانو پر ذهنیت جوړوني کار وکړي، د کفارو د فکري جګړې مقابله وکړي، د اقتصادي رغوني په برخه کې پاملرنه وکړي او د دې ولس د تعلیم ډېر ټینګ غم وخوري، زموږ ولسونه داسي کلک او هر اړخیز وروزي، چې وکولای سي، د تېرو څلورو لسیزو رسول سوې خساره جبران کړي.

اداره

عبث کارونه او اختلافات؛ د ضعف عوامل!

حسان مجاهد

کله چي کفارو پر اندلس باندي د یرغل اراده وکړه، نو قشتالیون یو جاسوس اندلس ته په دې موخه ولېږی، چي د مسلمانانو حالتونه ورته راوړي، د قوت او ضعف نقطې په ګوته کړي، ترڅو دوی په مناسب وخت کي اسلامي اندلس تر یرغل لاندي راولي.

د قشتالیون جاسوس یو بازار ته ننوتی او له یو پلورونکي څخه یې د یو شي د قیمت په اړه وپوښتل، پلورونکي ورته وویل: زما سره دغه شی په دوه دیناره دی، خو زما له مخامخ دوکاندار سره تر دې غوره شی موجود دئ.

کله چي جاسوس د بازار څخه ووتی، نو یو ماشوم یې د ژړا په حال کي ولیدی چي بل ماشوم تسلي ورکوي. ده له ماشوم څخه د ژړا لامل وپوښتی، ماشوم ورته وویل: ملګري مي لس غشي پر هدف وویشتل، خو زما په لسو غشو کي نهه غشي په هدف ورسېدل او یو را څخه خطا سو.

جاسوس خپل پاچا ته حال ولېږی او ورته ویې ویل: په داسي حال کي چي یو مسلمان ماشوم له دې امله ژاړي چي یو غشی یې خطا سوی دئ، له دوی سره جګړه امکان نه لري.

د څو کلونو په تېرېدو سره قشتالیون بیا جاسوس ولېږی، دا وار چي جاسوس بازار ته ننوځي او له پلورونکي د یو شي د قیمت په اړه پوښتنه کوي، نو پلورونکی ورته وایي: دغه شی په لس دیناره دئ. جاسوس ورته وایي: ستا له مخامخ ګاونډي دوکاندار سره همدغه شی په پنځه دیناره دئ!

دوکاندار ورته وایي: زما د ګاونډي سامان خراب دئ. کله چي جاسوس له بازاره وځي، نو په ژړا سر له یو ځوان سره مخکېږي او ملګری یې تسلي ورکوي، جاسوس د ژړا لامل ځني وپوښتی، ځوان ور غبرګه کړه: د خپلي معشوقې دسمال رانه ورک سوی دئ.

جاسوس وخندل او پاچا ته یې حال ولېږی، چي اوس یې هیڅ پروا مه کوه او د یرغل له پاره ځانونه چمتو کړئ.

په لهو–لعب او ناروا مینه کي ښکېلېدل، پر مادیاتو باور، له خپلو هدفونو غفلت، پر دیني ارزښتونو بې باوري او کمزوري، سپېڅلي جهاد ته شا کول، خپلمنځي اختلافات، کرکي او بدبینۍ هغه عمده عوامل دي چي له امله یې مسلمانانو ډېر اسلامي هیوادونه او د پېړیو–پېړیو مستحکم نظامونه له لاسه ورکړي دي، ځکه نو همېشه دښمنان هڅه کوي چي د مسلمانانو ترمنځ، رقابتونه ایجاد کړي او مسلمانان په لهو–لعب، بې ګټې او ناوړه کارونو مصروف وساتي، ترڅو له خپلو هدفونو غافل سي او د دښمن پر ضد د مقاومت روحیه له لاسه ورکړي.

په کار ده چي عام مسلمانان په ځانګړې توګه، حکومتي چارواکي د بې ګټې کارونو څخه ځانونه وژغوري، خپلو هدفونو ته متوجه سي، له کرکي او نفرت څخه ډډه وکړي او په ټولنه کي د اخلاص، ایثار او اتحاد تخمونه وکري.

دین؛ د ځان ساتلو زغره

مغفور "شهیدزی"

دین، ایمان او اسلام درې سره هغه مترادف (هم معنا) الفاظ دي چي یو له بله هیڅ پرېکون اوجلاوالی نه لري.

جامه د انسان له پاره هغه څه ده چي انسان له یخ، ګرمۍ، بې سترۍ او بدرنګي څخه ژغوري، خو که هرڅومره ښه جامه وي، تر یو څه وخته کار کوي، نور کار پرېږدي، زړېږي او څیرېږي؛ خو دین، ایمان او اسلام د انسان له پاره هغه جامه او پټوونکی شی دئ چي الله جل جلاله ورته له هر څه خیر ویلی دئ. هغه آیت چي الله جل جلاله په خپلو بندګانو ته اطمینان ورکوي، د خپل نعمت یادونه ورته کوي، د هر ډول اصلي اوزینتي جامو تر ذکر کولو وروسته فرمایي:

ژباړه: او د تقوا جامه ډېره غوره ده. (سورة الاعراف/۲۲)

علامه قتاده (رحمه الله) د تقوا تأویل په ایمان کړی دئ.

تاریخ ثابته کړې ده چي څومره هم چا د دین له پاره قرباني ورکړې ده، هغومره یې ځان د وخت له شرموونکو فیصلو ژغورلی دئ.

دلته درته د یادي مدعي د ثبوت له پاره څو مثالونه او شواهد وړاندي کوو:

هغه غیرتي صحابي حضرت عاصم چي د الله جل جلاله پر دین یې په پوره اخلاص او متانت قرباني ورکړه، د اسلام د دښمنانو مشرکینو ډېری مشران او کشران یې د خپل مجاهد غشي تر هدف لاندي راوستل او خپله جذباتي سینه یې وربانديي یخه کړه، کله چي ناتوان سو، اسلحه ور سره ختمه سوه او د شهادت پېښې یې د غوړو نو دروازه ټک– ټک کړه، نو په آخر کي یې دا دعا وویله: ای الله! د ورځي په سر کي ما ستا دین وساتی، د ورځي په آخر کي ته زما وجود د کافرانو له نجسو لاسونو وژغوره!

هغه و چي کله یې د شهادت جام پر سر پورته کړ، مشرکینو غوښتل، د نوموړي مجاهد سر ور پرې کړي او له ځان سره یې یوسي، ترڅو یې په مقابل کي بې شماره پیسې تر لاسه کړي. الله جل جلاله یې د حفاظت او ساتني له پاره یو ډول موچۍ (غالبوزي) را ولېږلې، چي بیا تر پایه د یو کافر لاس هم دغه مبارک وجود ته ور نه ورل سو.

حضرت صهیب رضی الله عنه چي کله د هجرت په نیت له مکي مکرمې، د مدینې منورې پر لور روان سو، د مکې کفارو نه سو زغملای چي داسي روغ ولاړ سي، نو ده د شهادت په نیت د مشرکینو یوه ټولۍ ورغله، نوموړي د ځان د خلاصون له پاره (چي بیا خپل ځان د دین په لار کي مصرف کړي) داسي مالي قرباني ورکړه چي الله جل جلاله ورته له خپل ځان سره د تجارت نوم ورکړ او په دنیا کي یې د مقبولیت او جنت زېری په برخه سو.

۳مخ

د یهودانو دسیسې

لیکوال: محمد یحیی خان

ژباړه: سمیع الله "درانی"

اووه‌شپېتمه برخه

که چیري دا تبدیلۍ په جبر او تشدد سره راغلي وای، نو په خلکو کي به د مایوسۍ ښېره خپره سوې وای، اوس نو که چیري ستاسو د نوي تبدیلۍ څخه خلکو ته د اسانتیاوو برابر ول مقصد وي، نو خلک به ووایي چي موږ خپلي غلطۍ اصلاح کوو، خو دغه نوی قانون زموږ د اقتدار استحکام له منځه وړي، د دې څخه خلک دا تأثر هم اخلي چي یعني حکومت یو نوې راتلونکې خطره محسوسه کړې ده، په دې خاطر یې قانون بدل کړی او په دې اقدام سره به خلک زموږ څخه د منني پر ځای، دغه زموږ مجبوري او بې وسي وبولي، نو له دې امله انقلاب د قانون د تبدیلۍ او د خلکو څخه د حقوقو د اخیستلو له پاره تر ټوله ښه طریقه ده.

زموږ مقصد خو د انقلاب څخه دادی چي نوی قانون نافذ کړو، خو نوره دنیا به د دې انقلاب څخه ډېر متأثر او حیرانه به وي، کله چي انقلاب ختم کړو، موږ به د دنیاوالو په زړونو کي یو نه تسخیرېدونکی قوم وګرځو او زموږ به دوني طاقت وي چي د دوی د خواهشاتو خیال ساتل خولیري خبره ده، مګر د دوی هر ډول مزاحمتونه به وځپو او نوري دنیا ته به دا هم ور وښیو چي موږ هر څه غوښتل، هغه اوس زموږ په قبضه کي دي او دا هم ورښوول په کار دي چي موږ به تاسو په خپل اقتدار او حکومت کي هیڅکله شریک نه کړو.

بالاخره د غیر یهودي قومونو به پر بدن لړزه راسي، سترګي به پټي کړي او د دې ډرامې د ختمېدو په امید به کښېني.

غیر یهود د پسونو رمه ده او موږ د دوی ښکار کوونکي لېوان یو او کله چي لېوه په رمه ګډ سي، نو څنګه حشر برپا کړي؟ د دوی د سترګو د پټېدلو بله واجه دا هم ده چي موږ هر وار د دوی سره وعده کوو چي موږ به د بدامنۍ تر ختمولو وروسته او د مختلفو سیاسي جماعتونو تر کومک حاصلولو وروسته تاسو ته خپله آزادي درکوو، خو د دوی ارمان به پوره نه سي، دوی هم د مجبورۍ سترګي پټي نیولي وي او راتلونکو حالتونو ته غمجن وي.

د فرې میسنز نمایش او د اجتماعو جوړول، آخر د دې پالیسۍ د جوړولو مقصد څه و او موږ د غیر یهودو پر ذهنونو د دوی تر پوهېدلو مخکي ولې قبضه کول غواړو.

د دې یو لامل دادی، چي موږ بالواسطه هغه حاصلول غواړو، کوم چي موږ د منتشرو قبیلو څخه هغه خپل مقصد نه سو حاصلولای، دغه د فرې میسنز د پټ تحریک بنیاد دئ، د دې حقیقي علم هیچاته نسته، زموږ پر دې مقصدونو د غیر یهودي پسونو (دونه بې فکره دي لکه پسونه) هیڅ شک نه راځي، موږ به دوی په ښکاره سره د فرې میسنز په اجتماعو سره نشه کوو، ترڅو چي دوی له خپلو خلکو سره جنجال پیل کړي. الله (ج) موږ ته یعني خپلو محبوبو بندګانو ته د قومونو د بې اتفاقه کولو او د جلا وطنه کولو چمونه را زده کړي دي، دا شی خو زموږ کمزوري معلومېږي، خو په حقیقت کي زموږ د طاقت راز په دې کي دی چي قومونه سره بېل او منتشر کړو، دغه شی موږ د ټولي دنیا د شهمشاهیت تر دروازې پوري رارسولي یو، موږ چي کوم بنیادونه د نړۍوالي پاچهۍ له پاره ایښي دي، اوس پر دې بنیادو د تعمیر کار لړ پاته دئ.

د اطلاعات او فرهنګ اړوند ټولو شیانو باندي پوره تسلط:

د فرې میسنز په نزد د "آزادۍ" د لفظ مطلب:

د فرې میسنز په سلطنت کي د رسنیو آینده، استخباراتي ډله، د ترقۍ مطلب او مفهوم، په ولایتونو کي د عوامي غوښتنو را پارول، د خطا څخه خلاصېدل، د داسي حکومت قیام چي داغ پر نه وي.

نور بیا...

د شیطان لښکر

خوښونه: شهید شیخ رحیم الله "حقاني"

(۵۹) برخه

د خوارجو نوې څېره (داعش)

امام نووي رحمة الله علیه لیکي:
صحیح قول دادی: معتبر بیعت د علماوو، مشرانو او د ټولو هغو مخورو دئ، چې حاضرېدل یې اسانه وي، که نه وي، د اعتبار وړ به نه وي.
د تعجب خبره داده چې د امام نووي رحمه الله دا وینا د داعش مفتیان د خپلې دعوا د تائید له پاره وړاندې کوي او وایي: په عراق کې چې د څومره علماوو او مجاهدینو حاضرېدل ممکن وو، راغلي وو او د کومو جهادي مشرانو راتګ چې ممکن نه وو او هغه په نورو هېوادونو کې وو، نو له هغوی سره خو مشوره هم شرط نه ده.
دا څومره لوی تحریف دئ؟ د دنیا په کونج– کونج کې له غل او ډاکو څخه بیعت اخیستل ممکن نه و، خو له جهادي مشرانو سره د خلافت غوندې مهم کار کې مشوره ممکنه نه وه؟
امام شاطبي په الاعتصام کې لیکلي دي:
ژباړه: د تحریف یوه طریقه دا هم ده، چې په دلیلونو کې په داسې توګه تحریف او تبدیل وکړای سي، چې آیت یا حدیث له خپل اصلي ځای څخه پرته، په نورو ځایونو کې وکارول سي، په دې ګمان چې دا دواړه یو شان واقعات او خبرې دي، دا هم په قرآنکریم کې د ذکر سوي تحریف برخه ده، له الله تعالی څخه پناه غواړو.
(الاعتصام ۲۴۹/۱)
موږ خلافت هم منو، له شرعي خلیفه سره بیعت ته واجب هم وایو، خو کوم خالفت چې د عراق خوارجو اعلان کړی، هغه هیڅکله هم شرعي نه دئ، نه بغدادي شرعي خلفه و او نه یې اوسنی مشر او نه ور سره بیعت جایز دئ، ځکه چې دا د مسلمانانو د وینې په تویولو بیعت دئ، چې حرام دئ.
عدناني په خپل یو ږغیز بیان کې د خلافت پر مشروعیت باندې د دلیلونو په لړۍ کې داسې وایي:
ژباړه: که د اهل و حل و عقد اتفاق نه وي، بیا هم بغدادي خلیفه دی او بیعت یې واجب دئ، ځکه داعشیانو په زور سره غلبه او خلافت ترلاسه کړی دئ او د داسې خلیفه اطاعت او بیعت شرعاً لازم دئ، نو چې غالب وي او له شریعت سره سمې فیصلې کوي، نو بیعت به ولې ور سره نه کوو؟
دا خلک کله وایي: چې بغدادي د اهل الحل والعقد له لوري امیر ټاکل سوی دئ او کله بغدادي ته په زور سره ترلاسه کوونکی مسلط وایي، حال دادی چې د دواړو ترمنځ په حکمونو کې فرق دئ، مسلط ته علماء کرام فاسق وایي.
علامه ابن حجر رحمة الله علیه لیکلي دي:
ژباړه: متغلب او مسلط فاسق د سزا وړ دي، په امیر جوړېدلو سره د مبارکۍ اهل نه دي او د ده ترلاس سیمو کې به د بدۍ او ښېګڼې حکم نه ورکول کېږي، بلکې داسې سړی د رټلو، بې عزتۍ او د دې وړ دی، چې له بدو کړو– وړو څخه یې خلک خبر سي.
(الصواعق المحرقة علی اهل الضلال والزندقة: ۶۲۷/۲)
علامه جویني رحمة الله علیه متغلب او مسلط سوی په مځکې فساد کوونکی شمارلی دئ.
(غیاث الامم: ۳۲۶/۱)
امام ماوردي د هغه امام له پاره چې په زور سره یې واک ترلاسه کړی وي، اووه شرطونه بیان کړي دي: (الاحکام السلطانیة: (۶۶/۱)، چې یو یې هم په بغدادي او ځای ناستي کې نسته.
زیات نه، زیات بغدادي ته د متغلب حکم په سترګه کتلای سو، خلیفه څه نه سو ورته ویلای، چې نبوي خلافت او د زور تسلط له لارې څخه نه راځي، بلکه دا چې بغدادي که متغلب دئ، نو د عراق او شام په څو ښارونو باندې یې غلبه ترلاسه کړې ده، د ټولې دنیا پر مسلمانانو خو یې غلبه حاصله کړې نه ده، حال دا دی چې بغدادي د ځان د ټولې نړۍ د مسلمانانو امیر بولي.
د اسلامي خلافت له قیام څخه تر ټولو مهم هدف د مسلمانانو د دین، ځان، مال او ناموس ساتنه ده او د عراق خلافت پر ځای د دې چې د مسلمانانو د ځان، مال، آبرو او عزت ساتنه وکړي، د بیعت نه کولو په جرم یې پوره– پوره قبیلې له منځه یووړلې او د مسلمانانو عام وژنه یې وکړه، چې مشهور مثال یې د شعیطات قبیله ده، چې د عام قتل فتوا یې یو مفتي ابو عبدالله چې کویټي جاسوس و، ورکړې وه.
نور بیا...

د ۲ مخ پاته.. دین؛ د ځان ساتلو...

هغه غریب صحابه چې د وخت متکبرینو د انسان په سترګه نه ورته کتل، د ژوند حق یې نه ورکاوه او پسخند به یې په واهه، چې: محمد صلی الله علیه وسلم په دغو دین ساتي او د کامیابۍ امید ورته لري. (العیاذ بالله)، خو کله چې هغو خپل وس او طاقت د الله جل جلاله د دین د حفاظت له پاره استعمال کړ. الله جل جلاله هغه د وقار، عزت او اطمینان ژوند ورنصیب کړ چې تر نن تاریخ پوري یې څوک مثال هم نه سي وړاندې کولای، همدې غریبې ټولۍ ته الله جل جلاله هغه هیبت ورنصیب کړ چې پر ټوله نړۍ یې بیا راج درلودی او د وخت امپراطورۍ یې مخ ته نه سوای تم کېدلای.
الله جل جلاله خپله کړې وعده ور سره رښتیا کړه چې وایې:
ژباړه: او هرومرو به الله د هغه چا مرسته کوي، کوم چا چې د الله مرسته وکړه (دین یې وساتی) بې شکه الله ډېر قوي او غالب ذات دئ.
ابابیل هغه مرغان وو چې د کعبې د ورانولو له پاره راغلی ابرهه یې سره له خپل لښکره، د رب جل جلاله په مرسته د ژوند له خوړو بې برخي کړ او د مسلمانانو قبله یې په ساتله.
هو! دا د کعبې ساتنه لوی رب جل جلاله په خپل قدرت سره له نورو لارو هم کولای شوای! خو دا چې ابابیل د دې افتخاري عمل اتلان بلل کېږي، دا دوی خپل ځان په دین باندې وساتل، حتی چې زموږ کوچنیان "چې هیڅ نه مکلف او نه د څه پروا لري، هم وار نه وربانديکوي او وایي چې د لېندۍ ربړان مې پرې کېږي. خو بالعکس که کله هم چا دین ته شاکړې وي او په ورانولو کې یې کوښښونه کړي وي، الله جل جلاله په دنیا کې هم داسې شرموونکي او رسواکوونکي عذابونه ورکړي. لکه فرعون، هامان، قارون او د تکبر مجسمه ابوجهل چې الله جل جلاله د دوو کمکیو هلکانو په لاس، د ده ژوند له یو ناسم برخلیک سره مخ کړ.
ژوندي مثالونه یادولای سو.
همدا شان په حیواناتو کې هم هغه خبیث حیوان کربوړی چې د نمرود اور یې پوه کوی، داسې ځان تباه او برباد کړ چې نن یې موږ ته په مرګ د ثواب وعدې راکړل سوی دي. همداسې ډېر مثالونه سته چې په یادوني سره یې دلته خبره اوږدېږي.
نو بناء راځئ! له تېرو تجربو عبرت واخلو او په خپل ټول توان او طاقت سره د اسلامي نړۍ د مظلومو مسلمانانو حمایت، د دین ساتلو په نیت وکړو، ترڅو مو الله جل جلاله له یو رسوا کوونکي عذاب څخه وساتي. که نه وي، موږ هم باید د هغه څه د انتظار شېبې وڅارو، کوم چې په تېرو وختونو کې په اسلامي خلافتونو لکه: آموي، عباسي او عثماني خلافتونو باندې راغلي دي چې په لومړیو کې یې د اسلام برم ژوندی ساتلی، خو کله چې په خپلمنځي مشکلاتو واوښتل، د دین او اسلام ګټې یې شاته وغورځولې او فاني ژوند ته یې پر باقي ژوند ترجیح ورکړه، په داسې مشکلاتو کې راګیر سوي چې یاد یې تراوسه د اسلامي نړۍ پر مخ د عیب تور داغ جوړ دئ.

له مطالعې او کتاب لوستني سره آشنایي

م. ریحان "محمدي"

له مطالعې سره د آشنایي او عادت جوړېدلو له پاره په لومړیو کې:
د رسول الله صلی الله علیه وسلم، صحابه کرامو، تابعینو او نورو سلف صالحینو رضوان الله علیهم اجمعین اسانه، ساده او روان سیرتونه او د ژوند حالتونه لوستل، مهم رول لري.
ګټه به یې دا وي چې دا موضوعات لوستل زیات له کیسو سره تړاو لري او له مطالعې سره د نوي آشنا کس په ذهن کې ښه ځای نیسي او له دوباره مطالعې سره د شوق پیدا کېدو ترڅنګ، د مطالعې عادت نیسي.
د غوره لیکوالانو تاریخي ناولونه لوستل، چې د اسلافو رحمهم الله غزاوې او د ژوند نورې کارنامې او داستانونه په کښې مهم نقش ولري، هم په دې برخه کې اړین رول لوبولای سي. د بېلګې په توګه: د نسیم حجازي، صدیق سردان یا عبدالحلیم د ګوتو شهکارونه....
د دې چارې د تر سره کولو وروسته چې کله له مطالعې سره آشنایي پیدا سوه، نو د نورو کتابونو د لوستلو له پاره د یو لارښود او علمي مشاور لارښوونې ته اړتیا سته، ترڅو د غوره عقیدوي، فکري، د دین د اساسي او نورو معلوماتي کتابونو د انتخاب لارښوونه ورته وکړي او نوموړی کس به خپل لارښود په رهنمایي تدریجًا لومړی د دین اساسي، عقیدوي، فکري او ور پسې نور کتابونه وګوري، په کومه برخه کې چې یې لارښود ورته لارښوونه کوي، تر هغو چې د تخصص تر کچې رسېږي او په خپله تخصصي څانګه کې ژورې مطالعې ته ادامه کوي.
البته د تخصص تر کچې د مطالعې پولو ته تر رسېدو پورې د خپل لارښود او مشاور بې لارښوونې کتاب مطالعه کول، حتمًا د مطالعې د ګډ–وډۍ او د ناکاره موادو د لوستلو باعث ګرځي.
مشران وایي:
د هر کتاب لوستل مفید نه وي او کله نا کله چې لیکوال یا د کتاب محتوا ناپېژانده وي، پر لوستونکي منفي فکري اغېز ښندي.

شعر او ادب

د طلوع زریني وړانګې

غزل

اکرام الدین "مفتون"

هم د قلم، هم د توپک، هم د دستار ورور دی
هم د دفتر، هم د زندان او هم د دار ورور دی

ټول اسلامي ملکونه ورونه دي په ډېرو معنو
خو بس دا ګران افغانستان یې لېږد کار ورور دی

دواړه به هر مشکل ته هر وخت څنګ په څنګ ولاړ وي
دښمن دې واوري چې پنجشېر د کندهار ورور دی

غزل

نوراحمد "قرآن مل"

د دښمن پر سر په تاو لکه لمبه ځم
د توحید د قافلې په عاقبه ځم

زړه د سور سېلاب وحشت ټکر کړ
استعمار ته پایلوچې کړم په کېږه ځم

زما جنون د ایمان له ښکارپوریه
هر یرغل ته کندهارۍ پر ده خواجه ځم

"قرآن مل" د رسالت په مدرسه کې
د سلفو سالکینو په جوپه ځم

غزل

احمد "بریالی"

زما او د حنان نژدې اړیکه سوه
وینه مو پر قام سره شریکه سوه

لاره د سبک مې د ده خوښه کړه
خوښه مې د ده لاره کلاسیکه سوه

بل څراغ د ده له شعره اخلم چې
نورو ته د تلو کوڅه تاریکه سوه

مغز مې د اشعارو صوفیانه دی او
زیاته د اصلاح هڅه پر لیکه سوه

ږغ د ترنم د زلمو خوښ کړم چې
ورانه مې له شور او له موزیکه سوه

فکر مې هر څه په بر کې نیسي نو
عامه مې موضوع بې له تفکیکه سوه

رنګ مې پر شعرو د کلي پرېوت خو
نوکې مې د خیال لاره باریکه سوه

خیال د "بریالي احمد" عمیق سو چې
ګرانه مې کیسه ځکه آنتیکه سوه

Tolo E Afghan Journal

مســـــــئول مـــدیر :ـــــــــ بـريـالـــی "فـیـضي"
د تصـــحيح مسئــــول :ــــــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
کمـــپوز او ډيـــــزاین :ــــــــ نصیر احمـد "صـــابر"
د مــــــديريت شمېره :ــــــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره :ــــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پتــــه :ـــــــــــــــــــــ علامه حبیبي واټ –اطلاعات او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته :ــــــــــــ Afghan.tolo@yahoo.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چي د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمریز کال په آخرکي د طلوع افغان تاریخي ورځپاني یو بشپړ کلکسیون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپاڼه کي ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندي کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده. اداره

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلي پاڼي بې ځایه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 — ISSue: 22 — Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

په کرایه یې ورکوي

د کندهار ولایت، د ډنډ ولسوالۍ اړوند، د نقلیه وسایطو یو باب پارکینګ چي د ډنډ ولسوالۍ ته څېرمه موقعیت لري، په کرایه د اجارې په ډول د دوو کلونو له پاره په قرارداد ورکوي. هر هغه څوک چي د یاد پارکینګ د قرارداد غوښتونکي وي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۳ ل کال د چنګاښ میاشتي د یو دېرشمي نېټې څخه بیا د روان کال د زمري میاشتي تر شلمي نېټې پوري (۲۱) ورځو په موده کي، د کندهار مستوفیت ریاست، د دولتي املاکو لوی مدیریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمین نغداً اخیستل کېږي او یاده داوطلبي د یکشنبې په ورځ د زمري میاشتي پر یو ویشتمه نېټه، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کي د دولتي املاکو په لوی مدیریت کي تر سره کېږي.

اعتبار نه لري

کامل د ندامحمد زوی د سنځر افغان لوجستیکي انفرادي جواز مالک چي د جواز شمېره یې (D-04-592) ده، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

دورکي اعلان

څه موده وړاندي د عینو د ملکیت یو سند چي د حاجي عبدالرازق د حاجي عبدالعزیز د زوی په نامه دئ، د ملکیت نمبر یې (139)، موقعیت یې (D1-6) او د فایل نمبر یې (5202) دئ، ورک سوی، هر چا که پیداکړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او یا دي د ټیلیفون په دې شمېرو تماس و نیسي:

0700305088 – 0700918181

کور خرڅوي

یو دربند سرای چي د کندهار ولایت، د شپږمي ناحیې اړوند، د زاړه ښار د ډمبر مسجد په محل کي موقعیت لري، حدود اربعه یې په لاندي ډول دي:

۱ – شرقاً متصل د ابراهیم آکا په خالي مځکه پوري چي حد فاصل یې پوخ دېوال دی او غرباً متصل دی، په عامه ویالې پوري چي حد فاصل د ویالې حریم دی او شمال متصل په مملوکه سرای پوري د ولي جان دی، حد فاصل یې پوخ دېوال دی، جنوباً متصل یې د غلام آکا په خالي مځکه پوري حد فاصل یې پوخ دېوال دی. هر څوک چي یاد کور په قطعي بیه غوښتونکي وي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۴۶ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتي د ۱۶ نېټي څخه بیا د روان کال د صفر المظفر ۶ نېټې پوري خپل غوښتنلیکونه د کندهار ولایت، د مرافعې محکمې د حقوقو آمریت ته وسپاري.

قرارداد کوي

د کندهار د تخنیکي او مسلکي زده کړو آمریت، ؤد خپلو تعلیمي مرکزونو له پاره خامو موادو ته اړتیا لري. د قرار داد علاقمندان کولای سي چي د خامو موادو د قرارداد له پاره د اعلان د نشر نېټې څخه بیا تر لسو ورځو پوري د تخنیکي او مسلکي زده کړو آمریت ته مراجعه وکړي.

(۱) مخ پاته: **مالدارانو ته د مالدارۍ اړوند...**

پنځو ولسوالیو کي مالدارانو ته د مالدارۍ اړوند لازم سامان آلات ورکوي.

د هغه په قول، لړۍ یې تېره ورځ د لوړ شاولي کوټ او کښته شاولي کوټ ولسوالیو څخه پیل سوې، چي ۱۰۰۰ تنو مالدارانو ته د دوی د مالدارۍ د ودې، پراختیا او کار اسانه کولو په موخه، د شیدو د انتقال ډبه، د سایلجو جوړولو ماشینري او منرالي خښتي ورکړل سوې.

د سعیدي په خبره، د دغو مرستو لړۍ به دامان، میانشین او نېش ولسوالیو ته هم وغځېږي.

(۱) مخ پاته: **د لوحو او تابلوګانو د...**

کندهار ښار کي په بهرنیو ژبو لیکل سوي او د بهرني کلتور تر اغېز لاندي لیکل سوي لوحې او تابلوګاني اصلاح کړي.

د هغه په خبره، د اطلاعات او فرهنګ ریاست تر مشري لاندي او د بېلابېلو ادارو د استازو څخه جوړي سوي د لوحو او تابلوګانو د اصلاح کمېټې لومړی خپل منځي ناسته کړې او وروسته په ښار کي د یو شمېر مهمو ځایونو څخه څار تر سره سو.

د هاشمي (عابداغا) په قول، په ځینو ځایونو کي لیدل سوي لوحې اصلاح ته اړتیا لري، چي وروسته به یې د اصلاح له پاره د کمېټې له لوري اقدام تر سره سي.

(۱) مخ پاته: **یوه عراده غلا سوی...**

د غزني ولایت په مقر ولسوالۍ کي غلو د یو هیوادوال څخه اخیستی او د کندهار ولایت پنځمي حوزې په ساحه کي یې پټ کړی و.

د هغه په قول، تراکتور د اسنادو نو تر کتلو وروسته خپل مالک ته وسپارل سو.

(۱) مخ پاته: **د ریاست الوزرا اقتصادي...**

پروسس پر مهال د زهرجنو موادو د له منځه وړلو له پاره په افغانستان کي د ننه کافي مواد موجود دي، دا ستونزه په بشپړ ډول حل سوې او د پروژې د عملي کار په وړاندي هیڅ خنډ نسته او زیاته یې کړه، د پروژې له پاره یې د پیسو د انتقال په موخه د افغانستان بانک ته هدایت کړی، چي له قراردادي شرکت سره لازمه همکاري وکړي.

د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو په پای کي قراردادي شرکت ته د بشپړ امنیت د تأمین ډاډ ورکړ او د دغي لویي پروژې د یوې برخي د عملي چارو د پیل په خاطر یې ټول ملت ته مبارکي ورکړې ده.

د بل خبر له مخي د اطلاعات او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه د لوګر ولایت په محمدآغې ولسوالۍ کي د مس عینک کان د استخراج عملي چارو د پیل په مراسمو کي د دې کان استخراج او د پروسس چارو پیل، د افغانستان د تاریخ ویاړمنه شېبه ګڼلې او ډاډ یې ورکړی چي دلته شته لرغوني آثار به په خوندي توګه وساتل سي.

باختر آژانس ته په رارسېدلې خبرپاڼه کي راغلي چي په دغو مراسمو کي د اطلاعات او فرهنګ وزارت سرپرست ویلي دي: «د تاریخي آثارو د ساتني په موخه، د ټولو اړخونو له هلو ځلو مننه کوو، د مس عینک کان کیندنه له اړخ طرف څخه د مځکي د تل طرف ته پیلېږي، تر څو تاریخي آثار محفوظ پاته سي.»

هغه زیاته کړه، د تاریخي آثارو ساتنه او د کان کیندنه په هم مهاله توګه یو پېچلی کار و چي د ښکېلو اړخونو په همږغۍ په ښه توګه د یوې قوي طرحې په پلي کولو سره مدیریت، حل او پیل سو او دا پروژه د نورو پروژو په پیل کي هم اسانتیا رامنځته کولای سي.

د اطلاعـــــات او فرهنــــــګ وزارت سرپرست، همدا رنګه له ښکېلو اړخونو څخه غوښتنه کړې چي د آثارو د ساتني په لاره کي د طرحې مطابق اغېزمن ګامونه پورته کړي.

(۱) مخ پاته: **چینایي پلاوي د...**

مولوي عتیق الله عزیزي او د دې وزارت یو شمېر مسئولینو او د چین د کلتور او ګرځندوی وزارت د معین «لي کن» په مشرۍ مل پلاوي ګډون کړی و.

په دې ناسته کي دواړو لورو پر بېلابېلو موضوعاتو په ځانګړې توګه؛ په کلتوري، علمي او تاریخي برخو کي پر متقابلو همکاریو خبري وکړې.

د چین څخه راغلي پلاوي ژمنه وکړه چي د افغانستان د تاریخي آبداتو او لرغونو سیمو د ساتني، استحکام او بیارغولو او همدا رنګه د اړوندو ادارو د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په برخه کي د اطلاعات او فرهنګ وزارت سره همکاري کوي.

د یادوني وړ ده چي د چین یاد پلاوي د هیواد د اطلاعات او فرهنګ وزارت په رسمي بلنه، کابل ته راغلی او د افغانستان ملي موزیم له بېلابېلو برخو یې لیدنه وکړه.

ټاکل سوې ده دغه پلاوی د خپل سفر په بهیر کي د مس عینک کان په ګډون، د افغانستان له ځینو نورو تاریخي سیمو او ساحو څخه هم لیدنه وکړي.

(۱) مخ پاته: **د کندهار په ارغسان...**

سره وکتل.

په لیدنه کي د افغان – جرمن باختر شرکت مشر سلطان محمد سروري ویلي، د روسي شرکت له مسئولینو سره په کډه غواړي، چي د کندهار ولایت د ارغسان ولسوالۍ د لوړې پر بند پانګونه وکړي او کندهار ته یې په همدې هدف سفر کړی، تر څو د دې مهم بند لومړنۍ سروې وکړي او تر لومړنۍ سروې وروسته به د یاد بند دوهمه سروې د ځانګړو انجینرانو له لوري تر سره سي.

وروسته د والي مرستیال دوی ته د ولایتي ادارې په استازیتوب د بشپړي همکارۍ ډاډ ورکړ او غوښتنه یې وکړه، تر څو د دې بند د جوړېدلو ټولي چاري په اساسي او بنیادي ډول تر سره کړي.

د بل خبر له مخي د کندهار ولایت په میوند ولسوالۍ کي د میوند په نامه د اوبو چینې له پاره ۲،۴ کېلو متره کانال جوړېږي.

د کندهار ولایت د کرهنې ریاست مطبوعاتي مسئول مطیع الله سعیدي د سه شنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ویلي، یاده چینه د میوند ولسوالۍ یوه له ارزښتمنو هستیو څخه ده، چي د دې چینې له پاره د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست تر رهبرۍ لاندي د «سولي بنسټ» نړۍوالي مؤسسې له خوا د ۱۰۵۹۲۰ امریکایي ډالرو په مالي لګښت ۲،۴ کېلو متره په اوږدوالي کانال جوړېږي، چي چاري به یې په راتلونکو څلورو میاشتو کي بشپړي سي.

(۱) مخ پاته: **د کتابونو پر بازار...**

حل لارو، د کتابونو پر بازار موندنه او کتاب لوستني ته د خلکو پر هڅوني بحث وسو.

په دې برخه کي کتاب پلورونکو له خپله اړخه د مسئولیتونو درک او د همکارۍ ډاډ وړاندي کړ، اطلاعات او فرهنګ ریاست به هم خپله اړونده همکاري په بشپړه ډول ترسره کړي.

ټولنیزي رسنی

نعمت الله "شاکر":

دغه وخت خو زما لا پیاد دی، چي کلیوالو به عمومي کارونه په حشر کول، خو اوس هغه خبري نسته.

Mohammad Naeem:

که آسمانونه لوړ او لیري دي، هغه ذات چي تر آسمانونو لوړ دی، موږ ته د غاړې تر رګونو هم قریب او نژدې دئ.

لاسونه هغه ذات (الله جل جلاله) ته پورته کړه، چي زخمونه په دعا رغوي.

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ

او [اې پیغمبره (ص)!] زما بندګان که ستا څخه زما (د لیري والي یا نژدې والي) په اړه پوښتنه وکړي، نو هغوی ته ووایه چي زه ورته ډېر نژدې یم.

بشیر احمد "بشرمل":

چا چي صبر وکړ، هغه بریالی سو!

عبدالغفور "حمیدي":

د نورو تر اصلاح د ځان اصلاح اړینه ده، ځکه پوهان هم وایي چي د ځان اصلاح، د جهان اصلاح ده.

وصال "افغان":

ابراهیم بن شیبان وایي:

شرف په عاجزۍ کي دی، عزت په تقوای کي دی او آزادي په صبر کي ده.

Fazilkhaliq Lalmawal:

نظار قاباني وایي:

غټه غمیزه دا ده، چي فکري بلوغیت او عاشقانه زړه، دواړه په یوه انساني وجود کي وي.

Hafiz Ehsanullah:

له امام غزالي رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه، څنګه پوه سم چي الله جل جلاله د ما څخه مخ اړولی یا ناراض دئ؟

امام صاحب په جواب کي ورته وویل: کله چي په بې ځایه بې معنی او عبثو کارونو کي مصروف سوې.

Nasir Ahmad Hashimi:

د مور او پلار عزت کوه، ټول ژوند به عزتمند اوسې!

Nasibullah Khalili:

ښه ژوند هغوی کولای سي، چي په خپلو ښکلو هیلو باور لري او خپل د توان تر حده کار کوي.

(روسویلټ)

Nangialay Bawar:

په سرني کانکور کي ټولو بریالیو زده کوونکو ته چي لوړو زده کړو ته یې لار پیدا کړې ده، مبارکي وایم. په دې هیله چي د علم دروازې تل پرانیستي پاته سي، څو ځوانان د یو ویشتمي پېړۍ په پیاوړې وسله (قلم) له نړۍ سره سیالي وکړي.